


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، پولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## صيام الدين « پسرلی »

د نشر نیټه : ۲۲ اګست ۲۰۱۳ میلادی

# د ژورنالیزم د زده کړې ځلور میاشتنی کورس پرانستل شو



دمیدیوتیک افغانستان په چوکاټ کې ننګرهار رسنیز کور دژورنالیزم ځلور میاشتنی کورس پرانیست.
په دغه کورس کې ۳۰تنه هغه ځوانان زده کړې کوي، چې له ژورنالیزم سره مینه لري او یا په ابتدايي توګه دختیزو سیمو په سیمه ییزو رسنیو کې کارکوي.
ددغه کورس لپاره ازموینه د رواني اوونۍ د شنبې په ورځ اخیستل شوې وه ، چې په ترڅ کې یې د لیاقت له مخې دېرش تنه ټاکل شوي دي .
دکورس د پرانستې په موقع دننګرهار میدیوتیک مشر پوهنیار محمد داود وفا وویل:

داکورس باید داسي ژورنالیستان وروزي، چې په افغانستان کې دسولی له بهیر سره مرسته وکړي، مدني اخلاق او زده کړې پراخه کړي او بلاخره هر ګډونوال یي د خپل وطن دخدمت جوګه شي .
ده وویل، دا د ابتدایي ژورنالېزم د زده کړې کورس دی او د نظري زده کړو ترڅنګه به په کې تاسو زده کوونکي عملي زده کړې هم کوئ.




ورپسې د دغه کورس یو تن استاد شفیق الله رحماني خبرې وکړې او تاکید یې وکړ، چې داکورس باید په عملي ډګر کې دوطن دخدمت په لار کې خپل اغیز وښندي .
استاد رحماني وویل، یوازې استادان نه دي، چې زده کوونکو ته به زده کړې ورکوي، بلکې دا په خپله زده کوونکي، دي، چې د پرله پسې مشق وتمرین او مینې له برکته به ژورنالیزم زده کوي .

بیا د کورس بل استاد حامد غورځنګ وویل:
په دغه کورس کې به د نوي ژورنالیزم اساسات هم تدرسیږي، چې انلاین ژورنالیزم ورته وایو، د راډیو، تلویزیوني ژورنالیزم ، تر څنګ به هڅه کیږي، دانلاین ژورنالیزم بیلابیلي برخې هم تدریس کړای شي.دغسې به پیکچر ژورنالیزم او ځیني نور اړخونه په پام کې نیول کیږي.
یاد کورس هره اوونی دوه ورځې تر غرمي وروسته د ننګرهار میدیوتیک دفتر په انګر کې دایریږي

صیام الدین « پسرلی »
ننګرهار رسنیز کور

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است